شریعت

اونیزه

د افغانستان د طالبانو د اسلامي تحریك نشراتي ارگان

بدگمانی او تهمت مه کوئ

لوی خدای جل جلاله فرمایلي دي : «ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی ډېر له بدگمانیو او تهمتونو څخه ځان وساتئ، بې شکه ځینې بدگمانونه او تهمتونه گناه ده.

ژباړه (الحجرات : ١٢)

تقاضای امارت نه کنید

عبدالرحمن بن سمره رضی الله عنه گفت که آن حضرت ﷺ برایش فرمود طالب مسؤلیت و امارت مشو، اگر مقام امارت در اثر خواسته ات داده شود از طرف خداوند معاونتی همرایت نخواهد شد. (بخاری)

لومړی کال | اته ویشتمه گڼه | دوشنبه د ١٣٧٥ هـ ش کال د اسد د میاشتې (١) | د ١٩٩٦ میلادی کال د جولای (٢٢) | د ١٤١٧ق کال ربیع الاول (٧)

دطالبانو اسلامی تحریك دعالی شورې غړی اوباتور قوماندان ملانورالدین ترابي له شریعت اونیزې سره په مرکه کې :

داسی معلومیږي چې حکمتیار او رباني دافغانستان د ورانولو تعهد کړی دی

دتحریك ترکنترول لاندی سیموکی داقامت الصلوة، ایتاء الزکات، امر بالمعروف اونهی عن المنکر څلور وارہ نظامونه عملی کیږی

د شریعت اونیزی خبریال ترابي صاحب سره مرکه کړی ده چې مهم ټکی یې محترمو لوستونکو ته وړاندی کوو.

پوښتنه: محترم ترابي صاحب، دعالي شورې په غړیتوب برسیره تاسو د امر بالمعروف اونهي عن المنکر وظیفه هم په غاړه لرئ.

په دې اړوند تر اوسه تاسو څه اجراآت کړی دي؟ مهرباني وکړئ لوستونکو ته معلومات ورکړئ:

ځواب : دلوی خدای جل جلاله په فضل د طالبانو اسلامي تحریك په ډېر لږ وخت کي دهیواد له نیمایي نه زیاته برخه دظالمانو ، فاسدانو، لوټمارانو او قطاع الطریقو له ولکي څخه ازاده کړه او تر خپل کنترول لاندي یې راوستله. اوس موږ دلوی خدای جل جلاله دفرمان سره سم چي فرمایي: د هغه کسان چي که دوي ته په ځمکه کي حکومت ورکړو، نو لمونځ به دروي، زکوة به ورکړي، په نیکیو به

پاتی په (٤) مخ

دطالبانو داسلامي تحریك دمحترم مشر په نامه دشیخ مولانا راحت گل صاحب سرخلاصي لیك

محترم المقام عالي مرتبت امیرالمؤمنین ملامحمد عمر حفظه الله

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته !

تقریباً یوه میاشت وړاندی ستاسو په حضور کي حاضر شوي وم . اوستاسو دشرعي نظام نه ډېر خوشحاله اومطمئن راغلی یم. الله تعالی دې ستاسو معین اومددگار شي.

او ستاسو په برکت دې په پاکستان کي هم شرعي نظام قائم کړي.

یو پیشنهاد ستاسو حضور ته وړاندی کوم. هغه دادی چي په افغانستان کي د یو غیر شرعي رواج دی، چي په لورانو او خورانو په لاکهونو روپی اخلي ددي غلط رواج په وجه په زرگونو ځوانی او ځوانان هلکان بغیر دنکاح نه ژوند تیر وي. پکار ده چي دا رواج ختم کړي شي . په شرعي اصولو ودونه او نکاح گانی اوکړی شي.

ستاسو خادم او د دعاگانو محتاج راحت گل

الحمدلله تر اوسه پوری په لوگر کی امنیت تأمین دی او ټولی دولتی اداری فعالی دی

دلوگر والي دشریعت له مسئول سره په مرکه کی :

دلته له مفسدینو څخه مخلصین زیات اوله بې عقلانو څخه هوښیار اوعاقل خلك ډیردي

په دې نږدې شپو ورځو کې دشریعت د اونیزې مسئول محترم مولوي احمدجان د یو لږ رسمي چارو داجرا په غرض لوگر ته تللي و، هلته یې دهغه ولایت له والي محترم مولوي محمد کبیر سره کتلي او دحالاتو په اړه یې مرکه ورسره کړې ده چې داده د درنو لوستونکو مخې ته یې ږدو:

پوښتنه : محترم مولوي صاحب ! له کومی ورځی نه چي تاسو د والي په توگه د لوگر ولایت ته تشریف راوړي

پاتی په (٤) مخ

حکمتیار به ویل چي موږ د روسانو، هندوانو او د داخلي کمونستانو پرخلاف جنگیږو؟

حکمتیار خو پخوا هم صدراعظم و، نو ولي یي جنگ کاوه ؟

افغانستان از برکت موقعیت استراتیژیك خویش شاهراه بزرگ تجارتی میشود

پایپ لاینهای تیل و گاز از خاک افغانستان عبور کرده به پاکستان میرسد

سالانه از وجه حق العبور مبلغ پنجاه ملیون دالر افغانستان بدست خواهد آورد

ایران میخواهد این پروگرام را تخریب و یا به نفع خویش از آن کار بگیرد

مانتیرنك دیسك میلر

مانتیرنك دیسك میلر در جلسه استماعیه کانگریس امریکا در یك بیانیه، خود خاطر نشان ساخت که افغانستان از برکت موقعیت استراتیژیك خویش یك شاهراه بزرگ تجارتی میشود، و در این کشور جنگ زده آفتاب صلح، امنیتو تجارت طلوع خواهد کرد.

از ترکمنستان دوپایپ لاین تیل و گاز به مصرف امریکا و عربستان سعودی که از دولت آباد آغاز از قندهار و تورغندی عبور کرد، به پاکستان و بحیره، عرب میرسد احداث میگردد.

پایپ لاینگر روزانه دو ملیارد متر مکعب گاز و پایپ لاین تیل روزانه یك

بقیه در ص (٤)

دخدای (ج) په لارکی جهاد، تقوی او اسلامی حکومت جوړیدل هغه وخت ممکن کیدای شی چی خلك اسلامی پوهه ولری.

(ملامحمد حسن اخند)

د کندهار دارغنداب دجوی لاهور دکلی په مدرسه کی دعظیم الشان قرآن دحافظانو د پگړی تړلو پرتمینه غونډه جوړه شوه.

غونډه دعظیم الشان قرآن د څومهارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه او بیا دعالی شوری سرپرست او دکندهاد والی محترم الحاج ملامحمد حسن اخند یوه گټوره اوعالمانه وینا وکړه وی ویل: ښوونه او روزنه دانسان لپاره دنیوی اواخروی گټی لری، دخدای (ج) په لار کی جهاد، تقوی او داسلامی حکومت جوړیدل هغه وخت ممکن کیدای شی چی خلك اسلامی پوهه ولری او په داسی روحیه روزل

پاتی په (٤) مخ

په هیواد کي دجعلي درملو پلټنه روانه ده

دهیوادوالو د صحت اوسلامت په غرض د اسلامي تحریك د کنترول لاندي سیمو کي دجعلي درملو پلټنه روانه ده .

زموږ خبریال له کندهار څخه خبر راکوي چي دسرطان په ٢٩ نېټه دجعلي درملو خلورتنه عاملین هریو مرلاداد، عصمت الله ، حسین خان او میرزاگل چي دگرانو هیوادوالو په روغتیا ·اوسلامتي یې لوبې کولې دامنیتي مسئولینو له خوا لاس په لاس ونیول شول.

خبریال زیاتوي چي جعلي درمل ضبط شوي او مجرمین دعالي شورى په لارښوونه او دشرعي محکمې دفیصلې له مخې هر یو په شپږو شپږو میاشتو بند محکوم شول.

د هیواد په بیلو بیلو سیموکی یوه اندازه وسله اومهمات ضبط کړای شول

له غزنی څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی د هغه ولایت د ده یك په ولسوالی کی یوه اندازه وسله او مهمات کشف او ضبط کړای شول.

خبریال زیاتوی چی په دی وسله او مهماتو کی ١٣٠ میله کلاشینکوف، پنځه میله ټی ټی توپانچې، شپږ صندوقه د کلاشینکوف کارتوس ٢٢ عدده د کلاشینکوف جبخوری او څلور صندوقه د کلاکوف کارتوس شامل وو.

همدارنگه دیوه بل خبر له مخی د هلمند ولایت د سنگین په ولسوالی کی د هغه ځای د امنیتی ځواکونو له خوا د وسلی یو ډیپو کشف او ضبط کړای شو.

پاتی په (٤) مخ

په کابل کي به ډیر ژر د روسیي سفارت پرانستل شي

دافغانستان لپاره د روسیي دبهرنیو چارو د وزیر ځانگړي استازي الکزاندر اویلوف داومنله چي مسکو به ډېر ژر په کابل کي خپل سفارت پرانیزي.

دافغانستان لپاره د روسیي د بهرنیو چارو د وزیر ځانگړي استازي الکزاندر اویلوف کابل ته له سفر څخه وروسته کله چي مسکوته ورسید خبر یالانو ته وویل: مسکو تیاردي په کابل کي دخپل سفارت د پرانستلو لپاره ډېر ژر لاره اواره کړي.

پاتی(٤) مخ

دری تنه قمار وهونکی ونیول شول

له کندهار څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی دهغه ولایت د پنجوایی په ولسوالی کی دامنیتی مسئولینو له خوا دری تنه قمار وهونکی لاس په لاس ونیول شول.

خبریال زیاتوی چی د ټولنی دغه فاسد عناصر دقانون منگولو ته سپارل شوی اؤ د شریعت مطابق سزا به ورکړل شی .

***

د مسلمانی عقیده ٢ مخ

د ملگرو ملتونو موسسه ٢ مخ

طالبان د الله په مخلوق کی نیک بندگان دی ٢ مخ

خدمات دینی و اجتماعی علماء در تاریخ معاصر کشور ص ٣

پوهنتون کښه فیشنتون؟ ٣ مخ

د ادب ملغلری ٣ مخ

دکابل دواکدارانو حلزونی چال چلند ٣ مخ

شاهدان عینی که جدیداً از کابل وارد پشاور شده اند میگویند :

در اثر حمله غافلگیرانه یی بر موتر مسعود سه تن ازبادیگارد های آن بقتل رسیدند

شاهدان عینی که جدیداً از کابل به پشاور آمده اند میگویند: در این اواخر مسعود میخواست که از راه عقب میدان هوایی خواجه رواش به شمالی برود، حکمتیار برایش راپور داده بود که امروز باید جایی نروید زیرا تصمیم ترور آنرا دارند. مسعود در جواب حکمتیار گفته بود که مدت چهار سال میشود که در کابل میباشم وهمیشه بطرف شمالی رفت وآمد دارم، اوبطرف شمال حرکت کرده بود البته توسط موتر تکسی ویاکدام وسیله دیگری و بادیگارد های مسعود به وسیله موتر که مسعود ازان استفاده مینماید در حرکت در آمده بودند که در مسیر راه مورد سؤقصد قرار گرفته وسه تن از بادیگارد های مسعود بقتل رسیدند.

مسعود به حکمتیار به این ارتباط گفته بود که این توطئه راقبل از وقوع آن شما کشف نموده بودید، البته در مورد عاملین آن هم معلومات دارید.

حکمتیار در مقابل اظهار داشته بود که عامل آن معاون شما وهمدستانشان میباشد(که ازانسهای خبر رسانی عامل آن توطئه داکتر عبدالرحمن را معرفی داشته اند) که به این ارتباط تاحال به شمول عبدالرحمن هفتاد تن دستگیر گردیده اند.

سرمقاله

بیایی افغانستان ته روس راوباله !

په کابل کی دنوی ائتلافی اداری اصلی څېره اوهغه شوم نیتونه چې دافغانستان د مجاهد اومسلمان ولس په هکله یې لری یو په بل پسې راڅرگندیږي: لومړی خوبې دروسیانو او دهغوی دگوداگی کمونیست رژیم له ماتی اوړنگېدلو سره سم دقدرت غوښتنې په خپل منځي جنگونو سره نړی ته دغه ناروا ذهنیت په عملی توگه ورکړ چې اسلام ؛ یعنې دا زموږ عمل:- نعوذ بالله تعالی - په دغه توگه یې داسلام قولی بیکټی. دتربوالو په پام کی وځېلی، داسلام دښمنانو ته یې دپلو تبلیغاتو زمینه برابره کړه، داسلام ، جهاد ، مسلمان مجاهد نوم یې خلکو ته دکرکی وړ وگرزاوه، دافغانستان مسلمان اومجاهد ولس ته یې بی دریغه تاوانونه وروارول؛ بیا یې دافغانستان دسرومال ، دین اوخاورې له تاریخی دښمن روس څخه ته پرازی دناروا تیری علو کول اود جنگ تاوان ونه غوښت بلکی هغه ته د براءت وزکولو یې غیرته هخه یې هم وکړه.

بیایی ددغه شوم ائتلاف په پیل کی دسولې ، تفاهم ، جنگ بندولو اوانتقالی حکومت جوړېدو غږولی اوغوښتل یې چې خلك وریاندي وغولوی خوهر څوك ددوی په انگیزو، دچرکی ، جاه او مال په مینه اوتلوسه پوهیدل ، اوس نه سوله شته، نه تفاهم، نه جنگ بندی اونه انتقالی دوره بلکی سملاسی یې دطالبانو پرسنگرونو په خپل ټول قوت سره ناکامه یرغلونه پیل کړل هغه طالبان چې دافغانستان دمسلمان اومیړنی ولس اولادونه دی، دخپلی خولی مړی یې ټول عمر یوه سپرلی ده، په خپل دیگ اوکاسه کی یې ددوی برخه کړی ده، یوه غو مسلمانانو په منځ کی رالوی شوی دی، په دین اودنیا کی اتشا وریسی کړی اودجهاد له لومړی ورځی نه یې په ډېر اخلاص او ورین تندی میدان ته رادانگلی دی، له هر چاته مخکی لوان تردی چې په تش لاس ددښمن مخی ته ورورڼاندی شوی دی، له هر چاته یې زیاته قربانی ورکړی ده او دهیڅ امتیاز غوښتنه یې نه ده کړی له دی پرته چې د الله تعالی په ځمکه دالله تعالی نظام چلول غواړي که په هغه کی دقدرت دلیونیانو هرسرته خاورې شوڅ خاوری به وی له هغه شرمیدلی بربادوماتی وروسته په کابل کی صدراعظم چې په یې ډیه لوخښلنی توگه ځان دتول هیواد صدراعظم بولی د نورو پرغلونو پتکه هم کړی ده.

دطالبانو له سنگرونو نه چې دوغی شومی اداری په مدگرونو څوابی گوزارونه گیږی له هغو سره جوخت ددوی کمونیست منصبداران او تورخونخوار ټوپکیان دخپلو ټوپکو خولی او دلرغندیو مخه دکابل مظلوموښاریانو دگنی گونی په ځایونو ورسی کړی، دا ټول مرگ ژوبله دیوی نابوړه ئی لپاره چی ددوی په فکر طالبان تام کړی لوخود حیثیت یې دخلکو په وړاندی تریخ کړی نور نو دخلکو د تباهی هیڅ غم نه په خوا وسره ژاونه اوس شته.

ویل کیږي چې مسعود دحکمتیار منلو ته په دی شرط چمتو شوی ؤ چی حکمتیار به ددوستم جنبش اودخلیلی حزب وحدت په ائتلاف کی ورگډوی او هم به دننگرهار شورى په دغه لاره بیایی ، مگر بیا چی حکمتیار هر څومره هلی ځلی وکړی، دشمال دسولی کاروان یې کله یې شرطونو او وروسته بیا په دی شرط اعلان کړ(چی له شمال نه به د حزب وحدت وزیران یوځای وورسره راځی) او هم یې حاجی عبدالقدیر ته دنش په نوم خارجه چارو وزارت ډیر وړاندیزونه وکړل

پاتی په (٢) مخ کی

ایران د خپل امام (خمینی او خامنه یی) د توهین سزا مرگ ټاکی، خو حکمتیار صاحب د هغو د خوښی د پاره د امام ابوحنیفه (رح) تولة فقه له خپلی حکومتی تگلاری څخه حذف کوی.

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریك
دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: دلیکوال هیئت تر کتنې لاندی
مسئول مدیر : مولوي احمد جان
ټیلیفون : ۸٤۰۳۷۸
آدرس : په پیښورکی دطالبانو داسلامي تحریك نمائندګی
دیوی ګڼی بیه : په هیواد کی (۳۰۰) افغانۍ
: په پاکستان کی (۳) کلداری

سرمقاله ...

او دنړوالی استازی یې هم وریسې ستړی کړل مګر ځرنګه چې ددغو خلکو له پیل ته ددوی بدبخته اداری ته دورتللو نیت نه ؤ اونه یې زړه ورته ، نه ګولای شرای هغه ؤ چې ددوی د اداری د رنګرلو لپاره یې په بوه نوې بل ائتلاف کی ځانونه سره ځای کړل، دحکمتیار هیلی اوحتی یې له خاورو سره خاوری کړی، په دغه ترتیب سره هغه شرط چې مسعود وریاندی ایښی ؤ منفی شو اوس دشرط په ورکه سره دمشروط تلې هم ضرور ښکاریږي په دغه وخت چې خپل زوال دکابل اداری ته حتمی ښکاره شو نو ددې پرځای چې خپلو مسلمانو خلکو دطالبانو اسلامی تحریك اوجهادی مشرانو ته مراجعه وکړی دکمونستانو غوندی یې دافغانستان دمسلمان ولس دسرومال ، دین ، ناموس اوخاوری دښمن روس ته ښتیته وکړه اوده خپل ناشونی اقتدار دساتنی لپهغاله یې دمسکو غولی ته ورووسوله مسکوپانوهم یې له درنګه خپل دخارجه وزارت خاص استازی وروااستاوه، خبری یې وروسره وکړی او ځرګنده یې کړه چې : « ... روسیه په افغانستان کی خپل سفارت بیا خلاصوی، سیاسی اړیکی لا له پخوانه ټینګی دی بیا ټینګرلوته یې ضرورت نشته ، بوازی دومره په کار ده چې تخنیکی ماهرین ترمخه راواستول شی او دسفارت د ودانی دبیاجوړولو وکار اندازه واخلی... » دغه تخنیکی ماهرین په حقیقت کی پوځی مشاورین دی چې دکمونیست ګوداګی رژیم په وخت کی یې افغانستان ویجار کړ اوس دکابل ائتلافی اداره غواړی چې ځان په ښکاره د روس ګوداګیان کړی او که چیری په افغانستان کی له پخوانی یرغل نه کوم ژوی ژوندی پاکوم دیوال پا ونه ولاړه باتی وی هغه هم له منځه یوسی، دهمدغه مطلب لپاره د روسی دملی امنیت اودفاع وزارت‌پرسترنه هغو خونکارو پوځی متصبدارانو ته ورکړل‌شول چې دافغانستان په ویجارولو کي یې پوره ونده درلوده. خو روس فدراسیون دی داخبره په یاد وساتی چې ددوی پلار (شوروی اتحاد) چې ځان یې سپر پاور (لوی ځواك) باله له افغانستان څخه څه ګټه ترلاسه کړه چې دوی اوس غواړی هغه ترلاسه کړی؟ دچیچن ناسور دی وژاړی اوخپلی اقتصادی ویجاړی دی سمبالی کړی.

دکابل اداره دی هم له ځانه سره سره سوچ وکړی چې دکمونیست ګوداګی رژیم کومه بقا شوروی اتحاد تضمین کړی وه چې اوس به وږی ترږی فدرالی روس او مر ژوندی پلتسن ددوی بقا تضمین کړی؟

خبراو عزت یې په دی کی چې ددښمنانو په ځای دخپل ملت غوښتنو ته ځان تسلیم کړی دخواخوږی، خیره ومنی اوقدرت په هغه طریقه اوهغه چاته انتقال کړی چې دافغانستان مسلمانان اومطرح قوتونه یې ومنی.

دمسلمانی عقیده

شپږویشتمه برخه

غازي خیل

د فقهي تاریخ او څلور مذهبونه :

امام اعظم رح کله چې د خلیفه منصور عباسی وخت راغلی امام صاحب یې له کوفی نه بغداد ته ورویاله خلیفه ورته وویل قضا وکړه، امام صاحب ته ومنله خلیفه قسم وکړ چې کوی به یې، امام صاحب قسم وکړ چې قبوله به یې نه کړم ربیع بن یونس د خلیفه حاجب (پیره دار) امام صاحب ته وویل چې : امیر المؤمنین قسم یاد کړی دی : امام صاحب رح ورته وویل خلیفه د قسم په کفاره له ماته زیات وس لری؛ له همدغه ربیع بن یونس نه بل روایت شوی دی چې وایی : خلیفه زیار یوست چ ... صاحب رح قضا کړلو ته تیار نړی امام صاحب ورته وویل : له الله تعالی ته‌ویریږه، په امانت کی داسی ځوك مه درګیوه چې هغه د الله تعالی له لاری نه مخالفت کوی، زما قسم دی چې خپله رضا می په خپل واك کی نه ده نو غضب به می څنګه پخپل واك کی وی؟ نو زه د قضا کولو ورنه یم؛ خلیفه ورته وویل دروغ دی وویل ته د قضا کولو وړیې؛ امام صاحب رح ورته وویل خپل ځان دی پخپله پرکړ، دا به څنګه تاته رواشی؟ چې یو قاضی ته امانت ورسپاری او هغه دروغژن وی؟

امام صاحب (رح) سخت پیاوړی استدلال درلود او د بحث له تنګسیانه به یې د خلاصون لاره ژرمیند لای شوای؛ روایت دی چې یوه ورځ دی په جومات کی ناست و او د خوارجو یوه خون کاره ډله جومات ته راغله توری یې ایستلی وی او ورته وی ویل : یا ابا حنیفه ! دوه پوښتنې درڅخه کوو که ځواب دی راکړ خلاص به شی او که نه نوژنو دی؛ امام صاحب رح ورته وویل توری مو په تیکی کښی پټی کړئ چې زړه می واوه شی؛ دوی وویل : څنګه یې پټی کړو موږ په دی کی ثواب ګڼو چې ستا په غاړه کی یې پټی کړو، امام صاحب رح وویل : ښه نو پوښتنې وکړئ؛ دوی وویل په دروازه کی دوه جنازی دی یوسړی دی چې شراب یې څکل په ستونی کی یې بند شول په مستۍ کی مړشو، بله یوه ښځه ده چې له زنا څخه امیدواره وه او د لنګوال په وخت کی یې له توبی څخه مړه شوه، اوس دغه دواړه‌کافران دی که مؤمنان دی؟ د خوارجو عقیده دا ده چې په کبیره ګناه سره بنده کافر کیږي، او که امام صاحب رح د اهل سنت والجماعة له عقیدی سره سم ووایی چې مؤمنان دی نو سملاسی یې وژنی، نویی له دوی نه پوښتنه وکړه چې دوی له کومی فرقی څخه دی؛ آیا یهود دی؛ دوی وویل : نه، هغه وویل : آیا نصاریٰ دی؟ دوی وویل : نه، هغه وویل : آیا مجوس دی؟ دوی وویل : نه، هغه وویل : نو له چا څخه دی؟ دوی وویل : له مسلمانانو څخه دی، هغه ورته وویل : تاسی خپلی پوښتنې ته پخپله ځواب ووایه، دوی وویل : نو په جنت کی به وی که په دوزخ کی؟ هغه ورته وویل : زه ددوی په هکله هغه څه وایم چې ابراهیم خلیل الله علیه الصلوة والسلام د هغه چا په هکله ویلی ؤ چې هغوی کافران وواوله دغو دواړونه د برید وو: (... ځوك چې زما پیروی کړی هغه زما دی او ځوك چې له ماڼه‌سرغړوی نویی شکه ته (یاالله) ډیرښونکی او د ډیر رحمت والایی).

او بل هغسی وایم چې عیسی علیه الصلوة والسلام ویلی و : (...که عذاب ورکوی (یا الله) نو بی له شکه ستا بندګان دی، او که ښنی یې نو بی له شکه ته ډیر ښونکی او د لوی حکمت خاوند یې) ددغو ځوابونو په اوریدلو سره خوار جوله خپلی ګمراهی نه توبه وکړه او امام صاحب ح ته‌یې‌عذر ووایه؛ داسی ډیر مثالونه راغلی دي؛

ځینی خلکو داسی ګومان کړی دی چې په حدیثونو کی د امام صاحب رح پانګه کمه وه، دغه غلط ګومان دی ځکه : له ده نه صحیح روایت راغلی دی چې په هغو روایتونو بر سیره چې دی له نوروسره د هغو په روایت کی شریك و بوازی دده انفرادی روایتونه دوه سوه او پنځلس حدیثونه دی، شیخ ابن حجر رح په خپل کتاب (تعجیل المنفعة) کی ویلی دی: (... حافظ ابومحمد الحارثی چې له (۳۰۰ هـ) نه وروسته تیرشوی دی د امام ابی حنیفه رح حدیثونو ته یې توجه کړی ده او په یوه جلد کی یې راغونډ کړی او دده د استادانو په ترتیب یې راوړی دی همدارنګه ابوالمؤید محمد بن محمود الخوارزمی چې په (٦٦٥ هـ) کی وفات شوی دی رحمه الله د امام صاحب رح مسند حدیثونه یې په یوه مجلد کی راغونډ کړی دی او نږدی اته سوه مخه ده او ډیر ځله چاپ شوی دی دغه شمیریی د پیاوړوعلماوو له پنځلسو مسندونونه را اخیستی دی او د فقهی بابونو په ترتیب سره یې برابر کړی دی.

اهل ... هر چې ځانونه اهل حدیث بولی په امام صاحب (رح) داسی تهمت وایی چې : وننه نازل کړ شوی شریعت دی مګر ده وضعی کارګرزولی او د فارسیانو فلسفه یې ورته جوړه کړی ده، له نصوصو پرته په بل هیڅ شی اعتماد روانه دی که چیری معنی ګانو او علتونو ته وکتل شی نو بیا په شریعت اضطراب (د زړه ناکراری) او اختلاف راځي، برسیره پردی دغه کار شریعت د خپل ځان په خوښه او خپل سرجوړول دی».

ددوی دغه او دغسی نوری خبری په حقیقت کی له یوه فقهی منل شوی اصل (قیاس) نه انکار ده چې شرعی حجت یې نه ګڼی مګر فقها ؤ کرامو په اصول الفقه په بشپړو دلایلو ثابت کړی او ورنه وزګار شوی دی، بر سیره پردی په قیاس باندی عمل بوازی د امام صاحب رح کارنه دی بلکه ټولو مجتهدینو کرامو رح عمل وریاندی کړی دی، امام صاحب رح چې په کومه طریقه سره له شرعی دلایلو نه احکام را ایستلی دی دا ټکی په ټکی هغه طریقه ده چې نورو مجتهدینو کرامو هم احکام وریاندی را ایستلی دی ځکه چې له امام صاحب رح نه روایت شوی چې ویلی یې دی : «زه په قرآن مجید کی حکم لټوم چې پیدایی نه کړم بیایی د رسول الله صلی اله علیه واله وسلم په سنتونو کی او په صحیحو آثارو (رانقل شوو حدیثونو) کی یې لټوم چې د ثقه او ګره علما وو ترمنځ لاس په لاس وی، که هلته می هم پیدا نکړ نو بیا د ده د اصحابانو رض په فتوی کانوکی لټوم دغو یوه صحابی فتوی چې حقه راته ښکاره شوه په هغه عمل کوم او ددوی (رض) له قول څخه تروسه وسه یوری بهرنه ځم، خو کله چې ددوی رض په فتواګانوکی حکم ونه موندل او خبره ابراهیم نخعی رح شعبی، حسن بصری رح، ابن سیرین رح، سعید بن المسیب رح او نورو تابعینو (رح) ته ورسیږی نو زه دا حق لرم چې اجتهاد وکړم لکه دوی چې اجتهاد کړی دی»

له دی خبری نه جوته شوه چې د اهل ظاهر وخبره بی معنا ده، هو دلته دومره خبره شته چې د امام صاحب رح نظر د نوروومجتهدینو رح له نظر سره یو څه توپیر لری هغه د احتیاط او پخلن لپاره دی، هلته چې د حدیث او اثر روایت راشی نو هریو مجتهد رح چې غالب ګومان یې راشی چې د غه د الله تعالی حکم دی هغه را اخلی، مګر امام صاحب رح یو څه شرطونه د خبرواحد په منلوکی د ډیر احتیاط او پخلن لپاره لګولی دی ځکه چې له بی احتیاطی نه خطا راپیداشی د هغی به نه بیاچاره وی او نه علر، خو پښیمانی به وی او که له احتیاط سره سره خطا ښکاره شی نو که بیا یې چاره نه کیده عذرخو به وی او پښیمانی به نه وی.

هغه شرطونه دا دی چې : خبرواحد به ذکره او ثقه علماوو په منځ کی مشهور او لاس په لاس وی، بل دا چې د روایت کوونکی عمل به له دغه روایت نه مخالف نه وی او دریم دا چې دا خبرواحد به په داسی موضوع کی نه وی چې له هغی سره د هر چا کار (عموم البلوی) وی : امام صاحب ډیر کرته دیته دلایلو له مخی نه چې بوازی دده پشان مجتهدیی میندلای شی قیاس پری ایښی دی او په استحسان یې عمل کړی دی.

امام صاحب رح لومړی مجتهد دی چې بی شمیره داسی فرضی مسایل یی طرحه کړی دی چې لاپیښی شوی نه دی په دغه ترتیب سره حنفی فقه ډیره غنی فقه ده او زیاته زیرمه لری او د نړی په هر ګوټ کی چې ځوك وغواړی له دغی زیرمی نه تقریبای هری پوښتنې ته ځواب ویلی شی؛

د امام صاحب رح په نیکو صفتونو کتابونه ولك دی خو موږ، دایو څو خبری راواخیستی.

شیخ الحدیث مولانا عبدالحلیم "دیروی" له شریعت اوونیزی سره په مرکه کی :

طالبان دالله په مخلوق کی نیك بندګان دی

طالبان په افغانستان کی د خلافت علی منهج النبوة دراوستلو کوښښونه کوی

پوښتنه : محترم مولوي صاب غوارم پوښتنه وکړم چې طالبان څوك دي او دغه لپاره راپاڅیدلي دي؟ دا چې دلته په پاکستان کښي په طالبانو باندي بعضي خلك تور لګوي چې دوي دامریکي او پاکستان په اشاره کار کوي...؟

ځواب: طالبان دخلکي پرمخ یو بهترین مخلوق دي چې حق تعالی (ج) د پرنابینا طالب العلم په وجه پخپله نبي صلی الله علیه وسلم باندي تهدید وشو (سوره عبس) په ځندي موقع رانازل شوي دغه نابینا صحابي عبدالله ابن ام مکتوم دي چې وروسته به کی نبي صلی الله علیه وسلم ډیر زیات احترام کاوه اوخپل څادر مبارك به یې ورته غوړاوه خلکو ته به یې ویل (هذاالذي عاتبني به ربي) داهغه شري دی چې دده له امله زه الله (ج) ملامت کړی یم.

نو طالبان دالله (ج) په مخلوق کښي نیك بندګان دي او دا طالبان هغه پخوانی مصلح مجاهدین دي چې په نصرت الهي سره یې د روس غوندي طاقت ته شکست ورکړ او روسان دي ته مجبور شول چې له افغانستان څخه په ذلت سره ووزي. اوس که هر څوك د طالبانو څخه ته راځي هغه غښی به ذلیله کیږي.

طالبان نه چوکی غواړي نه کوم بل دونیوي مقصد لري صرف او صرف داسلامي حکومت غوښتونکي دي او بدي کار کښي کامل اخلاص لري، زه پخپله او جماعت هم ملګري د دارالعلوم حقانیه نه دافغانستان ښیرو ولایتونو ته چې د طالبانو د کنټرول لاندي دي تللي وموږ هلته د تجارو، موټروانانو ،دهقانانو مطلب دا چې د هري طبقي سره تعلق لرونکو خلکو څخه د طالبانو د حکومت په هکله پوښتني وکړی تمامو خلکو د ډیر زیاتی خوشحالي اظهار کولو اوویل کی چې له کومي ورځي نه دلته طالبان راغلي الحمدالله زموږ مالونه اوناموسونو په حفاظت کښي دي او په ډیري خوشحالي سره ژوند تیروؤ. هلته په بازارونوکښي مکمل اسلامي شریعت نافذ و.

هیڅا هم زیره نشوای کټ کولی سګریټ چا نشوای څښلی البته د نسوارو یکښي اجازت و - اوس الحمد الله طالبان دومره مخ په ترقي روان دي آن چې په څینو ځایونو کښي حدود هم جاري شوي لکه په غزني او څینو نورو سیمو کي.

بیا موږ د محکمی له قاضي څخه پوښتنه وکړه هغه راته ددي پوره تفصیل بیان کړ چې دحدود داجرا کړلو سره په غزني کښي خصوصاً او په عام افغانستان کښي به عموماً . انشاء الله دي قطاع الطریقو پاتکیانو مکمل صد باب وشي؛

اوداسي نده چې دغه حدود فقط د عامو خلکو لپاره دي بلکه که په خپله طالبانو کښي هم کوم یو شخص دداسي جرمونو ارتکاب وکړي پوره پوره سزا ورکول کیږي او شرعي حدود باندي جاري کیږي . دطالبانو له دي خلوص څخه دا خبره جوتیږي چې نصرت خداوندي له دوي سره شامل حال دی دا چې د طالبانو کوم امیر دي امیرالمؤمنین مولانا محمد عمر اخوند یو ډیر مخلص انسان دي دهغوي د اخلاص نتیجه داده چې دافغانستان تمام علماء کرام اوطالبان په یو (حبل الله المتین) باندي راجمع شوي دي. او هر طالب دافغانستان خاوره خپله خاوره بولي، هر طالب په ډیر شوق او جذبي سره پرته له څه معاوضي څخه د افغانستان په خاوره اسلامي نظام بلي کولو ته تري ناست دي جامي خپلي اغوندي، وروي د وظیفي خوري رنګ رنګ تکلیفونوته تي غاړه ایښي ده یواځي او یواځي ددي په خاطر چې د اتلس لکو شهیدانو وینې چې دکوم مقصد لپاره توییی شوي هغه مقصد خپل لاس ته راوړي او دا خبره په عامو ملکونو باندي ظاهره شي چې دافغانستان ١٤ کلن جهاد یواځي دکرسۍ په خاطر نه بلکه ددي په خاطرو چې په افغانستان کښي اسلامي حکومت قایم شي.

دطالبانو په هکله چې کوم پروپاګنډو کیږي هیڅ حقیقت نلري دا صرف ددښمني په بناء ویلل کیږي همدا زموږ دخپلو سترګو لیدلي حال دي.

اکثرطلباء کرام زموږ خپل شاګردان دي.

طالبان هم باید پدي خبرو پسي سرونه ګرزوي یو شاعر څه ښائسته ویلي دي :

عرفي تومیندیش ز غوغائي رقیبان
اواز سګان کم نکند رزق ګدارا

دپاکستان جید جید علماء کرام دطالبانو په کردار فخر کوي که بعضي خلك تي مخالفت کوي تو هغوي دخپلي بی علمي‌له امله چې اصل حقیقت هغوي ته څرګند ندي.

پوښتنه : دقاضي حسین احمد د رباني حکمتیار د روغي دپلان په هکله ستاسوڅه رایه ده؟

ځواب: زموږ د وطن بعضي لیډران لکه قاضي حسین احمد پخپل وطن کښي اصلاح نشي راوستي بل وطن ته فقط د تخریب کاري لپاره سفر کوي.

خو زه داویلي شم چې انشاء الله دویٔ به پدي خپلو شومو اغراضو کښي هیڅکله هم کامیاب نشي، ددي متعلق په پاکستان کښي دا خبره مشهوره ده چه د هر تنظیم سره دوي ملګري شي ناکامي بي په برخه وي. نو د رباني حکمتیار سره هم دده ملګرتیا دکامیابي باعث نه بلکي دهغوي دناکامي واضح ثبوت دي.

متأسفانه د تجیب دحکومت له رنګیدو څخه وروسته بعضي اقتدار پرستانو په افغانستان کښي د جنګ اوجدل اور بل کړ په مختلفو نومونو تي ۵۰۰۰۰ افغانان په قتل ورسول کله د ګلم جم په نوم او کله بیا هم دانتلافي اداري په نوم دي جاه پرستانو بالکل د حجاج ابن یوسف یاد تازه کړ. ددي تمامو مسلمانانو د بي ګناه قتل مسئولیت پدي مشرانو باندي دي، قیامت په ورځ به هغه قهار ذات ته څه ځواب ورکوي...؟ اوس دي مشرانوته پکار دي چې دوي پخپل دور حکومت کښي امن قایم نه کړي شو داسلام او دقرآن په خلاف کوم کوم کارونه ونه شول ټول بکابل په کنډواله بدل شو- داسي تا اهله حکمرانانو ته پکار دي چې فوراً استعفی ورکړي او حکومت هغه چا ته وسپاري چه هغه ددي اهل وي او رښتیا هم اسلامي حکومت اوامن راوستي شي اونور باید دمسلمانانو طاقت ضایع نکړي الله (ج)دي وکړي چې په تمام افغانستان کښي دطالبانو په لاس یوواقعي اسلامي حکومت رامنځ ته شي ترڅو دنورو مسلمانانو لپاره هم لاربنود وګرځي .

في الحال زه دحکمتیار او رباني څخه دا مطالبه کوم چې طالبانو ته تسلیم شي هسي ته چه دوي دطالبانو د اسلامي حکومت تر ګوزار لاندي راشي اوهغه چې دوي د بي وزلو مسلمانانو وینې توی کړي په دوي به هم شرعي حدود جاري کړای شي.

الله (ج) ورته ډیر زیات مهلت ورکړلودفارسي مقوله ده (دیرګیرد سخت ګیرد)

دایت کریمه مفهوم همداسي دي د الله ګرفت ډیر سخت دي . پکار ده چې دغه مشران د تره کي، ببرك اونجیب غوندي شعاداتو څخه عبرت حاصل کړي.

په اخیر کښي که طالبانو ته څه پیغام لري؟

طالبانو ته ځما پیغام دادي چې اسلام یو ډیر پاکیزه مذهب دي اسلام د ښو اخلاقو او په مصیبت باندي د صبر تعلیم ورکوي او تعجیل نه خوښوي. طالبان باید له عامو خلکو سره ډیر ښه سلوك وکړي ځکه همدا طالبان په حقیقت کښي داسلامي نظام یوه عملي نمونه ده . عام خلك خو په فقه اصول حدیث باندي نه پوهیږي بلکه اخلاقو ،کردار اوعمل ته ګوري.

تاسو لیږ تبلیغي جماعت والو ته وګورئ نن هغوي مختلفو ممالکو ته روان دي لیکن دهغوي د صحیح اخلاقو اوسه سلوك دا اثر دي چې هغوي هم دیته واداره کیږي چې اسلام قبول کړي او دمسلمانانو څنګ ته راشي.

طالبان باید د خپل امیراطاعت وکړي په هر امر کښي باید مشوره وکړي د امیر اطاعت انتهائي ضروري دي که امیر مملکت وي اوکه امیر جهادي وي خداي ناخواسته لکه په جنګ احد کښي بعضي اصحابو د رسول کریم صلي الله علیه وسلم په امر کښي سستي وکړله هغه ګټلي جنګ په شکست بدل شو.

طالبان باید خپل اثیرته ډیر منقادوي او هر کله چې دجنګ وخت راځي، په ډیره عاجزي اوتواضع سره کار وکړي او پخپل طاقت او وسه باندي دوکه نشي. فتوحات ، نصرتونه ، قوتونه ټول د الله له طرفه دي انشاء الله العزیز ډیر زر به طالبانو ته الله بره فتحه مبین وریه نصیب کړي.

په اخر کښي زما تمامو طالبانو ته دا دوعا ده چې الله دي طالبانو ته استقامت في الدین نصیب کړي او هغه کسان چې شهیدان شوي که فضلاء حقانیة دي اوکه د نورو مدرسو طالبان دي الله (ج) دي دهغوي شهادت قبول او دهغوي د پاکو وینو په برکت سره په تمامه نړۍ‌کښي اسلامي حکومت قایم کړي.

دشریعت اونیزی خبریال حافظ عبدالحلیم زرمتي دحقاني طالب العلم.

په معاصرو پیړیو کی بین المللي اړیکي :

د ملګرو ملتونو مؤسسه

مولوي عبدالحکیم "مجاهد"

دریمه برخه

لکه څنګه چې مو په تیر بحث کی دملتونو د ټولنې په غیر عادلانه او غیر فطري تحمیلي جوړښت ته په اشاري سره وښودل چې د آلمان مظلومیت او دغرو هیوادونو دوه مخي باعث شوه چې

په نړۍ کی دسولې او امنیت دساتلو او دجګړي د پاي ته رسولو په ځاي د دوهمي نړیوالی جګړي دپاره زمینه برابره کړي، هرهیواد په پټه د وسلو دجوړولو او نظامي ځواك دپیاوړي کولو دپاره هلې ځلي کولي او دنورو ژوند ئې له خطر سره مخامخ کاوه هغه ؤو چې آلمان (جرمني) په لهستان باندي حمله وکړه او بالاخیره په روسیه کی دتنه دهغه هیواد تر پلازمیني پوري یې ځان ورسول، اوپه دی ترګه دوهمه نړیواله جګړه پیل شوه، چې له یوی خوا متحدین: امریکا، شوروي، انګلستان ، فرانسه، چین ، ... او له بلې خوا آلمان ، ایټالیا اوجاپان په جګړه کي راګیر شول. دغه جګړه په کال ۱۹۳۹ م کی پیل او کال ۱۹٤۵ م کی پای ته ورسیده.

شمس الدین رحماني په خپل کتاب «ماهیت سازمان ملل» کی ددوهمي نړیوالې جګړي نتایجو او پایلو ته په لاندي توګه اشاره کوي؛

۱- نږدی پنځوس میلیونه انسانان ووژل شول او بی شمیره ورانې او تاوانونه رامینځ ته شول. ۲- نازي المان تباه شو او په ډېر برخو باندي وویشل شو.

۳- په ایټالیا کی د مسئولیتي فاشستي نظام له مینځه ولاړ.

٤- جاپان بي قید او شرط متحدینو ته تسلیم شو.

٥- انګلستان ته دراننده تاوانونه ورواوښتل او په نړۍ کی یې دستر ځواك او وس هسواد حیثیت له لاسه ورکړ.

٦- فرانسي ته درانده تاوانونه واوښتل او ستر پدلون ته په کی رامینځته شول.

۷- شوروي اتحادته ډیر زیات انساني تلفات ورسیدل، چې نږدي شل میلیونه خلك یې ووژل شول، خواستالیني نظام پکي ټینګ شو.

۸- او ... امریکا له ټولونه زیاته په ګټه کی شوه چې اقتصادي تاوانونه یې لیږؤ او په نتیجه کی دنړۍ لومړي اقتصادي او امپریالیستي هیواد شو.»

رحماني صاحب لیکي چې ددوهمي نړیوالي جګړی په پاي کی ډیر ښکاره بدلونونه رامینځ ته شول، چې له هغو څخه:

-' دملګرو ملتونو مؤسسه «United Nations Organization»

- په چین کی سوسیالستي انقلاب

- په فلسطین کی دیهودانو د اسرائیلي دولت جوړیدل -

یې له ټولو نه څرګند او بارز بدلونونه دي ." له دي ځایه ده چې دملګرو ملتونو دمؤسسې تاریخي تکویني مرحلو ، دهغی تنظیمي جوړښت ، اهدافو او مقاصدوته لنډه کتنه کړو.

الف تکویني مراحل :

۱- دلندن غونډه :

دملګرو ملتونو دمؤسسي (U.N.O)

دتکوین او جوړښت په اړوند لومړي ګام دجون ۱۲ کال ۱۹٤۱ م په لندن کي د برتانیا ، کاناډا، آسترالیا، نیوزلیند، جنوبي افریقا او پرشمیر جلاوطنه حکومتونو لکه : بلجیك، چکوسلواکیه ، لهستان، لوګزامبورد، ناروی ، هالند، یوګوسلاویا، یونان او د جنرال دوګل په مشری کی دفرانسي جلا وطنه حکومت له خوا غونډه وشوه چې لاندي اعلامیه یې خپره کړه:

« د ربښتیني او واقعي سولې بنسټ دنړۍ د آزادو ملتونو په دغه هیله او ارزوکی نغښتي دي، چې دتیري او یرغل څخه په امن وی او ټولونه اقتصادي او ټولنیز امنیت وریه برخه شي.»

۲- دآتلانتیك اعلامیه :

له دي نه دوه میاشتي وروسته داګست دمیاشتي ١٤ په کال ۱۹٤۱م کی دآتلانتیك معاهده رامینځ ته شوه چې دمتحده ایالتو له خوا روزولټ او د برتانیی له خوا وسټون چرچل لاسلیك کړه او لاندی اعلامیه یې خپره کړه:

« دواړه دولتونه دمتجاوز اویرغلګرغندنه کوي او په دي باور لري چې ولسونه حق لري په خپله دخپلی خوښي حکومتونه جوړکړي، دوي له ټولو ملتونو نه هیله کوي چې په اقتصادي ساحه کی له دوي سره تعاون او مرسته وکړي.» په اعلامیه کی یې دا هم وویل:« وروسته له دي چې د نازیانو دیکتاتوري ماته شوي ده،، هیله ده چې سوله او امنیت منبنځ ته راشي او ټول هیوادونه دخپلو پولو په دننه کي سوله وساتي څو دکارګرانو د ژوند دمعیار دلوړولو زمینه برابر شي.»

۳- د واشنګټن اعلامیه:

دجنوري په لومړیټیت کال ۱۹٤۲ م کي د ۲٦ هیوادونو نمایندګانو دامریکي په متحده ایالاتو کي په یوه غونډه، کی ګډون وکړ چې د آتلانتیك داعلامیې په تعقیب یې یوه بله اعلامیه له واشنګټن څخه خپره کړه، اوریی ویل چې دآتلانتیك داعلامیې له اصولو سره سم به هر هیواد د دښمنانو په خلاف خپل ټول وسایل په کار اچوي.

۱. هر دولت تعهدکوي چې ټولي نظامي او اقتصادي سرچینې به دهغه دري ګوني اتحاد دغړو او دهغوي دپلویانو په خلاف چې له هغه سره په جګړه کي وي پکار اچوي.

پاتی په (۳) مخ

ستاسو لیکونه او زمونږ ځوابونه

پوهنتون که فیشنتون؟

محمد همایون «فیضانی»

ډېره ورځ زما یو ځوان دوست چې تازه له کابل څخه راغلی ؤ زه یې لیدلو ته ورغلم البته ماغوښتل چې د کابل په نویو حالاتو باندې ځان خبرکړم ځکه چې ما په همدې نږدې ورځوکې نیت کړی ؤ چې کابل ته ولاړشم.

دوست دحال او احوال له پوښتلو څخه وروسته ماغوښتل چې د دوست څخه د کابل د روانو حالاتو په باره کښې څو پوښتنې وکړم. ... له پوښتنه ... چې د دومره مشکلاتو او ګرانی سره سره د کابل ښاریان کوم چې په دفترونوکې کارکوی او نوره ګټه هم نلری د دفتر معاش څومره کم دی آیا په دی معاش ددی غریبانو ضرورت او مشکلات رفع کیږی؟ دوست می چې په هرڅه خبرؤ ډېره په اسانه یې راته ځواب راکړ وی ویل که ددوی په معاش ضرورت نه رفع کیږی نو غلا او په رشوت خو یې ضرورت رفع کیږی. زه یې ډېر وخت په تعجب کې واچولم او بیا می ورڅخه وپوښتل چې رشوت او غلا څنګه؟ دوست می راته وویل که دوی ته حکومت معاش کم ورکوی د رشوت او غلا څخه خو هیڅوک هم ندی راګرځولی په همدی وخت کې ما دا فکر کاوه چې زما دوست ته لکه چې دا غلا او رشوت ډېره کمه ګناه ښکاری او یا خو ییخی ګناه ورته نه ښکاری ځکه چې دده له لهجې څخه داسې معلومېدل. دوست می راته وویل چې فکر مه کوه ځکه چې په حکومتی دفترونوکی دا رشوت، غلا دوکه فریب او دروغ دومره زیات دی چې ته به دا فکر کوی چې ددوی چلامذهب دی چې داشیان پکښې معاف دی. الله (ج) دی پر مونږ ورحمیږی.

څرګنده خبره ده چې په حکومتی دفترونوکی ددی حالاتو مخنیوی نشی کیدای نو زما په فکر عوام که هرڅه، هرڅه وکړی زمونږ ورڅخه ګیله نه کیږی داټوله ذمه داری د حکومت ده. مثل دی وایی چې ځنګل او رواخلی له وچو سره لامده هم سوځی.

که نن نوی سبا او که سبا نوی بل سبا پردغو کسانو باندی د الله (ج) قهر نازلیدونکی دی خو غریب اولس ددی طاقت او توان نلری.

الله (ج) دی زمونږ پر مسلمان اولس رحم وکړی. آمین

اوس راځو دوهمی پوښتنی او اصلی مقصدته: لکه څنګه چې ما مخکی هم وویل چې ماغوښتل په همدی څو ورځوکی کابل ته ولاړشم ددی په مناسبت چې که ماته موقع پیدا شی چې په کابل پوهنتون کی د کانکور امتحان ورکړم ځکه چې زه په همدی څوورځوکی له سره نځی څخه فارغ شوی یم.

ما یې وپوښتل چې ورووره! ته د پوهنتون په هکله څه معلومات لری چې پوهنتون محصلان مني او کنه؟ خو دوست می بیا د مخکنی ځواب په شان په خندا او مسخره وویل چې پوهنتون که فیشنتون؟ ما په ډېره حیرانتیا ورته وویل چې فیشنتون ولی؟ دوست می راته په ځواب کی وویل چې دا ځکه چې هلته نه درس شته نه محصلان شته، او نه استادان شته صرف د پوهنتون په نامه د هلکانو او جنګو دساتیری ځای دی ځوانان هلکان او جنکۍ یو ځای کښېني ښه په فیشن برابروی په دغو کسانو کی چې کوم ډېر فیشن کړی وی پر هغه به غربینی ډېر زور کړی وی دا ځکه چې په همدی فیشنتون کی د خپل ژوند ملګری پیدا کوی او په خپله خوښه ورسره نکاح تړی.

ډېره د افسوس خبره ده، راځئ مسلمانانو اوس هم لاوخت دی مونږ او تاسو باید د خپل ملت د سرنوشت په ټاکلو کی د مسلمانانو په خوښه صحیح فیصله وکړو ... د مسلمانانو مددګار دی.

ګرانه وروره فیضانی صاحب زمونږ سلامونه هم ومنه.

دا دی لیک مو دی چاپ کړ، مونږ هم ستا له دوعا سره خپلی دوعاوی ملګری کوو، خدای ج دی زمونږ په هیواد کی د اسلامی نظام په سیوری کی د مسلمان ملت له غوښتنی سره سم اسلامی ژوند راکړی، تر څو مونږ خپل ژوند د شریعت له غوښتنو سره سم عیار کړو.

په درناوی (اداره)

د نبي د باغ ګلان

طالب العلم سیف الله صدیقی

افغانستان کی شریعت غواړو مونږ
د عالمانو قیادت غواړو مونږ
دا ائتلاف به ځان منلی نشو
شیدوته پښه کینولی نشو

افغانستان دی زوریدلی ملت
په سرولیوکی سوځیدلی ملت
دا په پیسو مونږ خرڅولی نشو
شیدوته پښه کینولی نشو

نن مخته شوی عالمان وروڼه دی
د پاك نبی د باغ ګلان وروڼه دی
مونږله دوی نه تیریدلی نشو
شیدوته پښه کینولی نشو

دغه وطن د مسلمانو کور دی
د حق پرستو عالمانو کوردی
دی کی باطل نظام زغملی نشو
شیدوته پښه کینولی نشو

افغانستان کی شریعت غواړو مونږ
د عالمانو قیادت ...
دا ائتلاف به ځان منلی نشو
شیدوته پښه کینولی نشو

د ادب ملغرې

نمی گویم

(الشیخ چلاسی)

نمی گویم کلام من شکر هست
که سعدی گفت داروتلخ تر هست
نه من تنها برای خویش نالم
مرا مقصود خیر کل بشر هست

* * *

چنین میری بسی ارزان نمیری
گران میری چو در میدان بمیری
بدورانت چنین تحقیر قرآن
قسم بالله که بی ایمان بمیری

ارمان

«ملنګ»

زمونږ وطن به حقیقت کی ګلستان شی کله
ورك به زمونږ له وطن نه ظالمان شی کله
مونږ خو له تا افغانستان غوښتو قرآن لپاره
له زخمی زړونو به بهر دغه ارمان شی کله
کله به دا توری تیری د ضلالت ورکی شی
چی به کامیاب افغانستان کی طالبان شی کله
دا د تحریك طلباء مجاهدین خاونده
په ننګ ددین به ورداخل په کابل جان شی کله
په زړه کی د ملنګ دی شرعی ځوانان به
دمحمد رسول الله په دین قربان شی کله

رژیدلی غوټی

عبدالله حسینی

خاونده خدایه زړه به کله د افیضان وویتم
چه د افغان په ننګ ولاړ بیا افغانان وویتم
کله لاسونه به یوبل ته دوروری ورکړو مونږ
کله مشران به وفادار بیا په پیمان وویتم
څو به په ملك زمونږ جاری وی د اغیارو اضرار
کله رټلی شرمنده به خارجیان وویتم
خالقه کله به غاصب واکمن شی ختم د لته
کله حاکم به سراسر ښکلی قرآن وویتم
ویتیم ستر ګونه روان دی چی سیلاب د اوښکو
کله لاهو به دی سیلاب کی ظالمان وویتم
ازغی ازغی راته نن تولله شوی د ګلو غنچه
کله چمن کی به غاټول ګل ریحان وویتم
زما په ملك به دوحدت ګلان شی کله سمسور
کله به ... په بدلی کی د خزان وویتم
د امید عزتی می ... ولی ربه وریږدی
کله پوره به زه د ... پاخون ارمان وویتم
کله خاین به شی حاضر د خپل حساب لپاره
کله رسوا به په ملت کی مجرمان وویتم
د حسینی زړګی به کله شی خالی له سوزه
کله قلم به می قانع په لړ بیان وویتم

ورك دې شي

مولوی نور احمد اعتمادی

چی بدمعاش، لوټمار او غل دی ورك دی شي
له فساد سره چی مل دی ورك دی شي
خپل عمل چی په قرآن برابر نکړی
په هر ځای چی بدعمل وی ورك دی شی
په چل ول که عملونه پټوی خپل
که پردی وی او که خپل وی ورك دی شی
په اخلاقو د اسلام چی ښکلی نه وی
چی کچه لیربدل وی ورك دی شی
مسلمان نه چی د زخم درمان نه شی
رسیده که تر منزل وی ورك دی شی
چی د بل په خوښه وړاندی وروسته کیږی
واك اختیار یی چی د بل وی ورك دی شی
هغه ګل چی خوشبو یی نه لری ځان کښی
هر نبایسته چی بی عمل وی ورك دی شی
چی د خدای رسول په وړاندی بی عزت وی
که تخت تاج یی پوره سل وی ورك دی شی
په الله (ج) باندی توکل کړه اعتمادی
هر انسان چی بی توکل وی ورك دی شی

دکابل د واکدارانو حلزوني چال چلند

شاه جهان سرداري

افغان ولس دافتخاره ډك تاریخ لري.

دتاریخ په اوږدو کي دامسلمان اوغيرتي ولس دستر و ستر و امتيازاتو او ځانګړتياو څښتن تېرشوی او ددي پښتمن ولس همدغه ځانګړتی دي چې دهغې دبريالیتوبونو اووياړونو بېلګي بلل کيږي.

افغان مسلمان اوغيرتي ولس تل سرلوړي اوسيدلي، دتاريخ په اوږدوکي د پرېکنده، معلوم او ښکاره دريځ څښتن تېر شوی، قاطعيت، وفاء، صداقت او امانتداري چې ديو مسلمان ضروري صفات دي، ددي ولس هغه ځانګړتی دي چې دی ويارمن قوم ته یې عزت او برتري وربخښلي او د ولسونو په منځ کي یې دقدراو درناوي ورګرځولی دي.

له بده مرغه چې اسلام او افغانيت ته منسوب دکابل دښار چار واکو نن ورځ دا غيرتي ولس په دی وګرکي هم دنړيوالو دخندا وړګرځولي او ددی په دغه نېکو صفاتو یې هم د بطلان خط راکښلي دي.

دکابل ننني بې کفايته، بې صلاحيته او بې ملته واکمنان چې د «الغاية تبرر الوسيلة» ګمراه کونکي قاعدي په اساس یې دچوکيو دګټلو لپاره ځانونو ته هره مشروع او نامشروع وسيله روا ګرځولی، نن یې په ډېره بې همتي، بې شهامتي او بې حيائيه پخپل چال چلند کی حلزوني پالیسي غوره او اختيار کړی ده.

اولکه څرنګه چې حلزون دوخت، شرائطو او محيط مطابق شکلونه خپلولي، همداسې دغه بې سليقي افراد د خلکو په سترګو کی د خاورو په شيندلو سره دمحيط او شرايطو سره سم خپل ځانونه برابر وي.

دکابل په بې ګناه ولس مسلطو ټوپکيانو دمنصبونو دګټلو لپاره د منافقت، دوه رنګۍ او څو مخيزي لاري خپلي کړي دي.

دغه عناصر چې له هر چاسره مخ شي ځانونه د هغوي ګڼي اوخپل داخلي حريفان ورته داسي ورمعرفي کوي چې ګويا هغوي خو په حقيقت کې ستاسو دښمنان دي او زمونږ سره یې جګړه هم په همدي خبره ده چې مونږ ستاسو ... غوره کړي دي.

دا دکابل د واکمنو عامه پالیسي ده چې کله له روسانو سره مخ شي هغوي ته داډاګيرنه ورکوي چې دوي خو ستاسو انډيوالان دي، که دغربيانو سره مخ شي هغوي ته وائي چې دوي خو لاپخوا ستاسو سره وو، او مسلمانانو ته څو پرځای پريږده چې هغوي ته خو خپل ځانونه بنيادګر؟ مسلمانان معرفي کوي.

